سلطان جان کلیوال ۲۰۱۹/۱۱/۲۷

# د مینی نوم

دنیا د مینی نـوم دی، هـم عقبی د مینې نوم

اشـــنا د پاره بس دی، د اشــنا د مینې نوم

په دښته کی روان دی، نه یی اوري نه یی وینې

مجنـــون اوری یـوائـی، د لیــلا د مینې نوم

په ویښـــه پســـی لاړه، د فـرعـون تر کوڅو

وو خـوب کی اوریـدلی، زلیخا د مینې نوم

نظر نه چی یی راغلې، د ژوندون لاری کړی

حـرم نـه را بهـر کړلو، بودا د مینې نوم

ممـبر نه چی آذان د بـلال، ورسـید تر غوږ

تحریر د زړه په سرشو، د هرچا د مینې نوم

خبـر شـــه کلـیواله، د لویوالی نه د مینې

هـر ډول عـبـادت کی دی، روا د مـینې نوم

**** **** ****

یادونه: که چیری ګران لوستونکی و غواړی چې د دی شاعر او لیکوال نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چې، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی او مطالب د «آرشیف» فهرست ته، لار ښودنه تر لاسه کړی!

د مینی نوم

S_klewal_de_mine_noom.pdf